په حقيقت کې الله تعالى په هر څه کې مهرباني فرض کړې ده

له شداد بن اوس - رضي الله عنه - څخه روايت دى وايې چې: دوه خبرې مې له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه زده کړي دي، وايي: «په حقيقت کې الله تعالى په هر څه کې مهرباني فرض کړې ده ، نو کله چې تاسو وژنې، په مهربانۍ سره وژل وکړئ، او کله چې تاسو حلاله کوئ، نو په مهربانۍ سره حلاله وکړئ، او که ستاسو څخه يو څوک حلاله کوي نو خپله چاړه دې تېره کړي، او څاروى دې راحت کړي».

[صحيح دى] [مسلم روايت کړى دى]

رسول الله صلى الله عليه وسلم خبر ورکوي چې الله تعالى په ټولو شيانو کې نيکي کول فرض کړي دي، او احسان (نيکي) : په دوامداره توګه د الله تعالى په عبادت، خلکو ته په خبر رسولو او له مخلوقاتو څخه په ضرر لرې کولو کې د الله تعالى څار دى، لدې جملې څخه په وژلو او حلالولو کې له مهربانۍ څخه کار اخيستل دي. په قصاص اخيستلو کې د وژلو پر مهال نيکي کول: داسې چې د مقتول لپاره تر ټولو اسانه، سپکه او چټکه لاره غوره شي. او په ذبح کې د حلالې پر مهال نيکي کول دا دي چې : د چاړې په تېره کولو سره په څاروي شفقت وشي او د څاروي له مخې چاقو تېره نه شي چې هغه ورته ګوري، او دا چې د نورو څاروو د سترګو وړاندې حلال نه شي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/4319

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee